# نیپال له پاخون څخه تر حکومت پورې

نیپال هیواد په ۱۹۹۰ کال مطلقه حکومت په څوګوندیزه ولسواکۍ باندې بدل کړ. شپږ کاله وروسته په ۱۹۹۶ کال پاخونکوونکو مائویستانو په وسله والو فعالیتونو لاس پورې کړ چې دا پاخون د ۱۳۰۰۰ کسانو په وژل کېدو واوښت. د ۲۰۰۶ کال په نوامبر کې پاخونکوونکو او حکومت په خپل منځ کې روغه جوړه وکړه چې په پایله کې د سلطنتي مطلقه حکومت د پای ته رسېدو لامل وګرځېد. له ملي ټاکنو وروسته مائویستانو په ۲۰۰۸ کال کې د چارو واګې په لاس کې واخیستې. اوس مهال دا هیواد د حقیقت موندنې ، د انتقالي عدالت بهیر او مسئولیت منني او په تیرو کې د بشري ضد جرمونو ته د رسېدو په اړه له ستونزو سره مخامخ دی.

## شالید

نیپال هیواد په ۱۹۹۰ کال کې خپل نوي سیاسي پړاو ته ننوت، دا بدلون د ټولنیزو کړکیچونو لامل وګرځېد چې د هغه په پایله کې د بشر له حقونو څخه پراخې سرغړونې رامنځ ته شوې. کړکیچ هغه وخت بڼه وموندله کله چې کله دا هیواد د یوه ټولیز خوځښت په پایله کې یو مشروطه سلطنت او څو ګوندیزه ولسواکي رامنځ ته کړه. نوي حکومت ونه شو کولای چې ځرګندو اقتصادي او سیاسي نا انډولی تنظیم کړي. دې حکومت د پراخ فساد پر وړاندې په ګوډېدو شو او ویې نشو کولای چې د پراخ شوي فساد په وړاندې برلاسی شي، له همدې امله د مائویستانو د غوسې اور په لمبو شو. مائویستانوپه ۱۹۹۶ کال په پاخون لاس پورې کړ. دا پاخون په نورو ډېرو تاوتریخوالو او ټولنیزو کړکیچونو واوښت.

پاچا ګیاندرا(Gyanendra) په ۲۰۰۵ کال کې واک ته ورسېد. د نیپال لوی سیاسي ګوندونو هم له مائویستونو سره لاس یو کړ. پاچا د مائویستان او نوړو سیاسي شریکانو او د مدني ټولنې د ورځنیو نیوکو له امله اړ شو ترڅو له مطلقه واک څخه لاس په سر شي. د ۲۰۰۶ کال په نوامبر کې مائویستانو او د هغوی نوړو سیاسي شریکانو د هراړخیزې سولې تړون له لاسلیک کولو وروسته لنډ مهالی حکومت رامنځ ته کړ او لنډمهالی اساسي قانون یې ومانه. مخکنیو پاخون کوونکو وکولای شول په ۲۰۰۸ کال ټاکنو کې وکولای شول د اساسي قانون په غونډه کې ترټولو زیاتې چوکۍ وګټي. وروسته دوی ائتلافي حکومت جوړ کړ چې په هغه کې د مائویستانو مشر پوشپا کامال داهال( Pushpa Kamal Dahal ) چې په پارچندا(Parchanda ) باندې هم مشهور دی د لومړي وزیر چوکۍ لاسته راوړه.

## ناترسره شوي ژمنې

د هراړخیزې سولې تړون سره له دې چې د ترې تام شویو د کمیسیون، د حقیقت موندنې او روغې جوړې د کمیسیون او د تاوتریخوالي د قربانیانو د زیانونو د جبران د پروګرام لپاره بنسټ وګرځېد، خو په عملي ډګر کې هیڅ یو کمیسیون نه دی رامنځ ته شوی او د زیان د جبران او د تاوان ورکولو پروګرام تراوسه نه دی پیل شوی. مائویستانو او څو نورو مهمو ګوندونو د ۲۰۰۸ کال په اګست کې داسې تړون لاسلیک کړ او ژمنه یې وکړه چې ؛ د مائویستانو اردو د خلکود آزادی لپاره؛ باید د شپږو میاشتو په اوږدو کې په ملي اردو کې ورګډ کړل شي. په دې ډګر کې مسئولین په ډېرو لږو پرمختګونو باندې لاسبري شول.

له کومه ځایه چې حقیقت موندنه او د عدالت تأمین او مسئولیت منني پرمختګ نه دی کړی، نو په دې توګه دا خطر احساس کیږي چې په تیرو کې د بشر د حقونو ترپښو لاندې کول د تل پاتې سولې او امنیت د لارې خنډ وګرځي. هغه خلک چې د مائویستانو او دولت ترمنځ د جګړې

### د وخت په ترتیب سره د پیښو شرح

**۱۹۹۶** په نیپال کې داسې پیښې رامنځ ته شوې دي چې هره یوه یې له درده ډک جنایتونه او د بشر له حقونو څخه سرغړونې دي. د بېلګې په توګه په ۱۹۹۶ کال د نیپال کمونیست ګوند ( مائویستانو) د سلطنتي نظام د را پرځولو لپاره په وسله وال پاخون لاس پورې کړ او دا پاخون یې په لرو پرتو سیمو کې رهبري کړ.

**۲۰۰۱** یو له هغو پیښو څخه چې په دې کلونو کې رامنځ ته شوې ، په ۲۰۰۱ کال د نائب السلطنه دیپندا (Dipenda) په لاس د پاچا بریندا (Birenda) وژل کېدل و. له دې پیښې وروسته له دې ملکه اشواریا او د سلطنتي کورنی نور غړي ځانونه په خپله وژنې. د شاه له وژل کېدو وروسته ، پریس ګیاندرا شاهي تاج پر سر کېښود او د چارو واګې یې په لاس کې واخیستې. له تاج په سر ایښودلو څخه وروسته مائویستانو ناځاپه په وسله وال برید لاس پورې کړ د خلورو ورځو په ترڅ کې یې سل کسان ووژل . حکومت بیړنی حالت اعلان کړ. دا په داسې حال دي چې د حکومت او پاخون کوونکو ترمنځ د جګړې په بهیر کې په سلګونو کسان ووژل شول.

**۲۰۰۳** د جګړې په خطرناکو شیبوکې د نیپال له پیښو څخه د حکومت او پاخون کوونکو ترمنځ جګړه او سوله او اوربند دی. په ۲۰۰۳ کال کې پاخونکوونکو او حکومت د سولې په موخه اوربند اعلان کړ. د دې اوربند په پایله کې مائویستان وځي.

پاتې د پاڼې شاته

په ترخ کې قرباني شوي دي، له غوسې او کرکې يې زېږونه ډک دي. داسې احتمال شتون لري چې که چېرته نوی دولت ونشي کولای د جګړې پر ميراث باندې برلاسی شي او خپلې ژمنې لکه د وروستيو پېښو په اړه تحقيق او پلټنې او د اردو ادغام باندې عمل ونشي کړی، نو د قانون حکومت به کمزوری شي او دا به د دې لامل وګرځي چې د بشر حقونو ته د درناوي د فرهنګ پراختيا به له ګواښ سره مخامخ شي.

## د انتقالي عدالت د تحقق لپاره د نيپاليانو غږ

د انتقالي عدالت نړيوال مرکز ICTJ او عدالت غوښتونکې ټولنې (Advocacy Forum) د جګړې قربانيانو او د بشر د حقونو د ناقضينو په اړه خپل فعاليتونه په لاندې کاري محورونو باندې پيل کړی دی:

### ۱- حقيقت موندنه

له هغو محورونو څخه چې ICTJ او د دفاع ټولنې د هغه په شاوخوا خپل کار پيل کړ ، يو يې د حقيقت موندنې بهير دی. نظرپوښتنو ښکاره کړې ده چې په بېلابېلو سيموکې، بېلابېلو قومي ډلو په تيرو کې د بشر له حقونو څخه د سرغړونو دتحقيق او بشر د حقونو څخه د سرغړونې او د هغه د ترپښولاندې کولو د تاريخي پيښو ثبت او ضبط ته ښه راغلاست ويلي دي. همدارنګه په هغو نظر غوښتنو کې چې ترسره شوې دي دوی د ټرې تام شويو خلکو او حقيقت موندنې او روغې جوړې د کميسيونو غوښتونکي دي.

### ۲- عدالت

څېړنو ښودلې ده چې د هغو کسانو څخه چې له هغو څخه د نظر غوښتنه شوې ده ۹۹ په سلو کې د هغو خلکو د محاکمې غوښتونکي شوي دی چې د بشر د حقونو په نقض باندې تورن دي. د نظر ورکوونکو او نظر غوښتل شويو له ټولګې څخه ۶۹ په سلو کې په خپله په نيپال کې د تورنو کسانو د محاکمې د دايرېدو غوښتونکي دي. د نظر غوښتنې په بهير کې ګډون کوونکو کسانو نظر څرګند کړی دی چې اوسنی قانون کېدای شي په هيواد کې دننه د قضايي تعقيب لپاره په بشپړه توګه اغيزمن نه وي. ډېری نظر پوښتل شويو په يوه خوله وويل چې محاکمه بايد د دوه کلونو په اوږدو کې پيل شي.

### ۳- لوی جرمونه او واړه جرمونه

د نظر غوښتنې په بهير کې ځينو ګډون کوونکو جرمونه په دوه برخو چې ، لوی جرمونه او واړه يا د ښېښې وړ جرمونه دي، وېشلي دي. له هرو پنځو کسانو ګډون کوونکو څخه څلورو کسانو په لويو او کوچنيو مرتکبانو باندې د جرم د سرته رسوونکوله ويش څخه ملاتړ وکړ او يادونه يې وکړه چې کيدای شي د بديل او يا ښښنې د ميکانيزم له لارې له دوهمې ډلې سره چلند وشي.

### ۴- د زيانونو جبران

له هغو کسانو څخه چې د نظر غوښتنې په بهير کې يې نظر ورکړی و غوښ ډېری قربانيانو ته د زيان د جبران او د تاوان د ورکړې د پروګرام د پلي کولو غوښتونکي وو. دوی خپل نظر داسې څرګند کړ چې د تاوان د ورکړې او د زيان د جبران په پروګرام کې ډېرې ښځې، ماشومان او ځنډېې ته پاتې خلک لکه د لاېټونه (Dalits) تر پاملرنې لاندې راځي .

## د پيښو د شرحې ادامه

**۲۰۰۵** شاه جياننددرا په ۲۰۰۵ کال کې د ماؤيستانو په وړاندې د دفاع په بهانه بيړنی حالت اعلان کړ او بشپړ واک يې په لاس کې واخيست. وروسته له دوه مياشتو يې د نړيوالو فشارونو په نتيجه کې بيړنی حالت لغوه کړ. خو ماؤيستانو د پخوا په څېر له مقاومت څخه لاس نه اخيست. او مخالف ګوندونه هوکړې ته ورسيدل چې د ولسواکۍ د اعادې لپاره پروګرامونه ترلاس لاندې ونيسي.

**۲۰۰۶** په ۲۰۰۶ کال کې د اونيو اونيو اعتراضونو په پايله کې شاه اړ شو ترڅو پارلمان يوځل بيا خپل کار پيل کړي. پارلمان د رآيو په اتفاق د شاه د واک په کابو کولو رايه ورکړه او د حکومت او ماؤيستانو ترمنځ د سولې له خبرو اترو دري کاله وروسته د لومړي ځل لپاره پيل شو.
ماؤيستانو او حکومت په ۲۰۰۶ کال کې د سولې تړون لاسليک کړ، او په دې توګه ۱۰ کلنې نا امنۍ ته د پای ټکی کېښودل شو او د جګړو او پاڅونونو لړۍ پای ته ورسېده. د سولې د دې قرارداد په پايله کې، پاڅونکوونکو هوکړه وکړه چې له انتقالي حکومت سره يوځای شي او DDR شي او خپلې وسلې د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې وسپاري.

**۲۰۰۷** پاڅون کوونکي په ۲۰۰۷ کال کې پارلمان ته ننوتل او له بيړني حکومت سره يوځای شول. خو وروسته له هغې چې ماؤيستانو دولت د سلطنتي حکومت د له منځه وړلو په موخه پرېښود ، د اساسي قانون د شورا لپاره ټاکنې وځنډېدې. په پای کې د اساسي قانون شورا په ډېسمبر مياشت کې د پارلمان لخوا تصويب شوه.

**۲۰۰۸** ماؤيستانو د ۲۰۰۸ کال په اپريل کې د ملي ټاکنو په پايله کې د اساسي قانون په شورا کې ترټولو ډېرې چوکۍ ترلاسه کړې ، د مې په مياشت کې شاهي مانۍ پرېښوده ، په دې توګه د نيپال د پاچاهۍ دوسيه و ترل شوه او جمهوري حکومت اعلان شو. وروسته په جولای کې ښاغلی رام باران ياداف د لومړي ولسمشر په توګه د چارو واګې په لاس کې واخيستې . له هغه وروسته په آګست مياشت کې د ماؤيستانو ائتلافي حکومت جوړ کړ چې په پايله کې د دوی مشر پوشپا کامال داهال (پراچندا) لومړی وزير شو.

**د انتقالي عدالت نړيوال مرکز (ICTJ) :** د انتقالي عدالت نړيوال مرکز داسې يو ارګان دی چې د انتقالي عدالت د خونديتوب لپاره کار کوي، دا ارګان له هغو هيوادونو سره چې غواړي د تل پاتې سولې او په تيرو کې پر بشري ضد جرمونو باندې دعدالت د پلي کولو په اړه فعاليت وکړي، مرسته کوي. د دې مرکز د فعاليت سيمه هغه ټولنې دي چې له ځپونکو حکومتونو او يا وسله والو شخړو څخه راوتلې وي او يا په هغو هيوادونو کې ولسواکي نوې را ټوکېدلې وي او تر اوسه لا له پخوا پاتو ستونزو لکه له عدالت څخه پراخ سرغړاوی او د بشري حقونو سيستماتيک تر پښولاندې کولو سره لاس او ګريوان وي د دې سازمان په اړه د نورو ډېرو مالوماتو لپاره په www.ictj.org پته باندې مراجعه وکړئ.

**د افغانستان د څار ټولنه:** د افغانستان د څار ټولنه يو افغاني مدني بنسټ دی چې لرليد يې يوې ولسواکې، سوله ايزې، متواضع او له عدالت څخه برخمنې ټولنې ته رسېدل دي چې ټول وګړي يې وکولای شي له مساوي فرصتونو څخه برخمن وي. د دې بنسټ ماموريت د هغو کړو وړو سرته رسول دي چې پايله يې په افغانستان کې د سولې ، عدالت او يو د بل د منلو د فرهنګ پياوړتيا او بشري حقونو ته درناوی وي. ولسواکۍ، عدالت، بشري حقونو، په هيواد کې انډوليزې ټولنيزې او اقتصادي پرمختيا ، بې پربوالي، خپلواکی او تخصص ته ټينګه ژمنتيا د دې سازمان د کړو وړو د لارښود په توګه له چورليزو ارزښتونو څخه ګڼل کيږي. د افغانستان د څار ټولنې په اړه د نورو زياتو معلوماتو لپاره لاندې ويب پاڼې ته مراجعه وکړئ: www.watchafghanistan.org